# د خلکو وېره دې ستاسو څخه هېڅوک له حق ويلو څخه منع نه کړي، کله چې هغه حق ويني او يا پرې پوه شي

له ابو سعيد الخدري رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «د خلکو وېره دې ستاسو څخه هېڅوک له حق ويلو څخه منع نه کړي، کله چې هغه حق ويني او يا پرې پوه شي».

[صحيح دی] [او ابن ماجه او احمد روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم خپلو ملګرو ته خطبه وويله او له هغو سپارښتنو څخه چې خپلو ملګرو ته يې وکړې دا وه چې د خلکو وېره، او ځواک دې يو مسلمان د حق له ويلو يا پرې له امر کولو څخه منع نه کړي، کله چې حق ويني او يا پرې پوه شي».

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/66273

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee